# دافغانستان اسلامي جمهوريت

# دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده ګڼه

## د سياسی ګوندونو قانون

## قانون احزاب سياسی


د خپريدو نېټه:د ۱۳۸۸ هـ .ش كال د وږي د مياشتې (۱۵)

پرله پسې نمبر: (۹۹۶)

تاريخ نشر : (۱۵) سنبله سال ۱۳۸۸ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۹۹۶)

**در این شماره :**

**قانون احزاب سیاسی**


**د امتیاز خاوند: دعدلیې وزارت**

مسئول چلوونکی : حیدر "محقق"

۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸

د دفتـــر تیلــفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مــرستـــــیــــــال: نور علم

۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتـــــمـــــم: محمد جان

۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

وب ســــــایت : www.moj.gov.af

قیمت این شـــــماره : (۳۰) افغاني

تیـــــــراژ چاپ اول: (۵۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

## د افغانستان د اسلامي جمهوري رياست

ګڼه : (۸۸۲۰)

نېټه : ۱۳۸۸/٦/۷

دعدليې وزيرمحترم سرور دانش!
دسياسي ګوندونو قانون چې دملي شوري د ګډ هيئت د ۸ /۳/۱۳۸۷ نېټې د (۹۲) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۵) فصلونو او (۲۵) مادو کې تصويب او د اساسي قانون د (۹۴) مادې د حکم پر بنسټ د ۱۳۸۸/۳/۳۰ نېټې د (۲۲۰۸) ګڼې ليک په ذريعه په پارلماني چاروکې د دولت د وزير د دفتر لخوا بېرته ولسي جرګې ته ليږل شوی وو، د ۱۳۸۸/۳/۱۳ نېټې د (۱۴۲) ګڼې مصوبې په ترخ کې د ټولوغړيود دووثلثوپه رايواو داوومې مادې د تعديل په منلو سره

## رياست جمهوری اسلامی افغانستان

شماره : (۸۸۲۰)

تاريخ : ۱۳۸۸/٦/۷

محترم سرور دانش وزير عدليه !
قانون احزاب سياسی را که به اساس مصوبۀ شماره (۹۲) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۸ هيئت مختلط شورای ملی د ر(۵) فصل و (۲۵) ماده تصويب و به تأسی از حکم مادۀ (۹۴) قانون اساسی ذريعۀ نامۀ شماره (۲۲۰۸) مؤرخ ۱۳۸۸/۳/۳۰ دفتر وزيردولت درامور پارلمانی دوباره به ولسی جرگه اعاده گرديده بود، طی مصوبۀ شمارۀ (۱۴۲) مؤرخ۱۳۸۸/۳/۱۳ با دوثلث آرای کل اعضاء و با قبول تعديل مادۀ هفتم

ئې مخکنۍ فيصله بيا د تصويب وړ ګرځولې،له مصوبې او تعديل سره يوځای تاسې ته درواستول شـــول څوئې په رسمي جريده کـــې پــه خپرولواقدام وکړئ.

حامد کرزي

دافغانستان د اسلامي جمهوريت

رئيس

مجدداً فيـــصلهٔ قبلـــی را مـــورد تصويب قـــرارداده انـــد، همـــراه با مصوبه و تعديل بشما ارسال نمودم تا به نـــشر آن درجريـــدهٔ رســـمی اقدام نمايند.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی

افغانستان

ولسي جرګه

مصوبه

دسياسي ګوندونوقانون دټولو غړو په دوه ثلثه رايو سره

پرله پسې ګڼه : (۱۴۲)

دتصويب نېټه : ۱۳۸۸/۳/۱۳

ولسي جرګې د ۱۳۸۸/۳/۱۳ نېټې دچهارشنبې ورځې په عمومي غونډه کې دافغانستان د اساسي قانون د څلور نوي يمې مادې لــه حکــم سره سم،دسياسي ګوندونو قانون په (۵) فصلونو او (۲۵) مادوکې ،د دوه يم ځل لپاره دټولوغړو په دوه ثلثه رايو سره تصويب کړ.

په درنښت

څارنوال عبدالستار خواصي

دولسي جرګې منشي

ولسی جرگه

مصوبه

قانون احزاب سیاسی به دوثلث آرای کل اعضاء

شمارهٔ مسلسل : (۱۴۲)

تاریخ تصویب : ۱۳۸۸/۳/۱۳

به تأسی ازحکم مادهٔ نودوچهــارم قانون اساسی افغانستان ولسی جرگه درجلسهٔ عمــومی روز چهارشــنبه مــؤرخ ۱۳۸۸/۳/۱۳ خــویش قانون احزاب سیاســی را مجــدداً به دوثلث آرای کل اعضاء به داخل (۵) فصل و (۲۵) ماده تــصویب نمود.

با احترام

څارنوال عبدالستارخواصی

منشی ولسی جرگه

# فهرست مندرجات

## قانون احزاب سیاسی

## فصل اول

## احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | مفهوم حزب | ۱ |

## فصل دوم

## طرز تأسیس و ثبت احزاب سیاسی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ سوم: | تعدد احزاب | ۲ |
| مادۀ چهارم: | تأسیس حزب | ۲ |
| مادۀ پنجم : | آزادی فعالیت | ۲ |
| مادۀ ششم: | فعالیت های ممنوعه | ۳ |
| مادۀ هفتم: | دفتر مرکزی حزب و تأمین امنیت آن | ۴ |
| مادۀ هشتم: | مرجع ثبت | ۴ |
| مادۀ نهم: | رد ثبت حزب | ۴ |
| مادۀ دهم: | حق مراجعه به محکمه | ۵ |
| مادۀ یازدهم: | آغاز فعالیت حزب | ۶ |
| مادۀ دوازدهم: | حقوق حزب ثبت شده | ۶ |
| مادۀ سیزدهم: | عضویت حزب | ۷ |

## فصل سوم

## امور مالی

مادۀ چهاردهم: شفافیت منابع تمویلی حزب........................۸
مادۀ پانزدهم: منابع تمویل حزب.................................۸
مادۀ شانزدهم: مسئولیت امور مالی حزب.........................۹

## فصل چهارم

## انحلال حزب سیاسی

مادۀ هفدهم : حالات انحلال حزب............................۱۰
مادۀ هجدهم : انحلال حزب توسط محکمه.......................۱۱
مادۀ نزدهم : رسیدگی به درخواست انحلال حزب .............۱۱
مادۀ بیستم: مطالبه رد قضات..................................۱۲
مادۀ بیست ویکم: حق شرکت رهبر حزب در جلسه محکمه........۱۲
مادۀ بیست ودوم: ذکر دلایل انحلال حزب درفیصله...............۱۳

## فصل پنجم

## احکام نهایی

مادۀ بیست وسوم: مراحل ثبت حزب...............................۱۳
مادۀ بیست وچهارم: منع استفاده از موقف حزبی .................. ..۱۴
مادۀ بیست وپنجم : انفاذ...............................................۱۴

بسم الله الرحمن الرحیم

## دسیاسي ګوندونو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د ۱۳۸۲ هجري لمریز کال د اساسي قانون د (۳۵) مادې د حکم په رڼاکې، په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د تأسیس دڅرنګوالي، فعالیت، حقوقو، وجیبو اود انحلال د ډول د توضیح په موخه وضع شوی دی .

**دګوند مفهوم**

**دوه یمه ماده :**

د دغه قانون په مفهوم سیاسي ګوند د حقیقي اشخاصو سازمان شوې ټولنه ده چې د دې قانون او اړوندې اساسنامې له حکمونو سره سم، سیاسي موخوته د رسېدو لپاره، په

## قانون احزاب سیاسی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این قانون در روشنی حکم مادۀ (۳۵) قانون اساسی سال ۱۳۸۲ ه . ش به منظور توضیح طرز تأسیس، نحوۀ فعالیت، حقوق، وجایب و انحلال احزاب سیاسی در افغانستان وضع گردیده است .

**مفهوم حزب**

**مادۀ دوم :**

حزب سیاسی به مفهوم این قانون جمعیت سازمان یافتۀ است از اشخاص حقیقی که طبق احکام این قانون و اساسنامۀ مربوط، برای نیل به اهداف سیاسی در

ملي او سيمه ييزه سطحه فعاليت کوي.

## دوه يم فصل

## دگوندونودتأسيس او ثبتولوړول

**دگوندونو تعدد**

**درېيمه ماده:**

دافغانستان د اسلامي جمهوري دولت د سياسي سيستم بنسټ پر ديموکراسۍ او د گوندونو پر تعدد باندې ولاړ دی .

**دگوندجوړېدل**

**ځلورمه ماده:**

دافغانستان هغه اتباع چې د (۲۵) کلنۍ عمرېې بشپړ کړی وي، د قانون له حکمونو سره سم کولای شي ،په آزاده توگه سياسي گوند جوړ کړي.

**دفعاليت آزادي**

**پنځمه ماده:**

سياسي گوندونه ددغه قانون له حکمونوسره سم ،په آزاده توگه

سطح ملی و محلی فعاليت می نمايد.

## فصل دوم

## طرزتأسيس وثبت احزاب سياسی

**تعدد احزاب**

**مادۀ سوم:**

اساس سيستم سياسی دولت جمهوری اسلامی افغانستان مبتنی بر ديموکراسی و تعدد احزاب سياسی می باشد .

**تأسيس حزب**

**مادۀ چهارم:**

اتباع افغانستان که سن (۲۵) سالگی را تکميل نموده باشند ، مطابق احکام قانون می توانند آزادانه حزب سياسی را تأسيس نمايند.

**آزادی فعاليت**

**مادۀ پنجم :**

احزاب سياسی مطابق احکام اين قانون به صورت آزادانه فعاليت

فعاليت کوي اودقانون په وړاندې د برابروحقوقواو وجيبولرونکي دي.

**ممنوعه فعاليتونه**

**شپږمه ماده:**

سياسي ګوندونه لاندې فعاليتونه نشي تر سره کولای:

۱-داسلام د سپيڅلي دين د اساساتو اود افغانستان په اساسي قانون کې د درج شويو ارزښتونو دمناقضوموخو تعقيبول .

۲-له قوې تاوتريخوالی،(خشونت) يا ګواښ څخه ګټه اخيستل ياله قوې څخه د ګټې اخيستنې تبليغ کول.

۳- قومي، توکميزو ، مذهبي يا سمتي تعصبونوته لمسونه .

۴-د افرادو د حقوقواو آزاديو په وړاندې د مشهود خطر پيداکول او دعامه نظم اوامنيت عمدي ګډوډول.

۵-دنظامي تشکيلاتو لرل يا په مستنده توګه د وسله والو ځواکونو له قوتونو سره جوړجاړی (تباني).

٦-له بهرنيو سرچينوسره سياسي

نموده و دربرابر قانون دارای حقوق و وجايب مساوی می باشند.

**فعاليت های ممنوعه**

**مادۀ ششم :**

احزاب سياسی فعاليت های ذيل را انجام داده نمی توانند.

۱- پيروی ازاهداف مناقض احکام دين مقدس اسلام و ارزش های مندرج قانون اساسی افغانستان .

۲-استفاده از قوه يا خشونت يا تهديد يا تبليغ استفاده از قوه .

۳- تحريک به تعصبات قومی ، نژادی ، مذهبی يا سمتی .

۴- ايجاد خطر مشهود دربرابر حقوق و آزادی های افراد و برهم زدن عمدی نظم و امنيت عامه .

۵- داشتن تشکيلات نظامی يا تبانی مستند با نيرو های قوای مسلح .

٦- وابستگی سياسی و تمويل از

اړيكي لرل او ورڅخه تمويلېدل.

**دګوندمركزي دفتراو دهغــه د امنيت تأمينول**

**اوومه ماده :**

دسياسي ګوندمركزي دفتر د هېواد په دننه اودهغه فعاليتونه د هېواد په دننه او بهركې مجاز دي . دولت په مركز او ســيموكې د سياســي ګوندونو د دفترونو خونديتوب او امنيت تأمينوي.

**دثبت مرجع**

**اتمه ماده :**

(۱) سياسي ګوندونــه د عــدليې وزارت لخوا ثبتېږي .

(۲) دسياسي ګوندونو د تأسيس او ثبت ډول د جلا مقررې په واسطه تنظيمېږي .

**دسياسي ګوندونودثبت ردول**

**نهمه ماده :**

(۱) دعدليې وزارت كولاى شي د هغو سياسي ګوندونوثبت چې لاندې

منابع خارجی .

**دفتر مركزی حــزب وتــأمين امنيت آن**

**مادۀ هفتم :**

دفتر مركزی حزب سياسی درداخل كشوروفعاليت های آن در داخل و خارج كشورمجاز می باشد. دولت مصؤنيت و امنيت دفاتر احــزاب سياسی را درمركز و محلات تأمين می نمايد.

**مرجع ثبت**

**مادۀ هشتم :**

(۱) احزاب سياسی ازطرف وزارت عدليه ثبت می گردد.

(۲) طرزتأسيس و ثبــت احــزاب سياسی توسط مقررۀ جداگانه تنظيم می گردد.

**رد ثبت احزاب**

**مادۀ نهم :**

(۱) وزارت عدليه می تواند ثبــت احزاب سياسی را كه واجد شرايط

شرايط ونه لري ،رد كړي :

۱-هغه سياسي ګوندونه چې ددغه قانون په شپږمه ماده كې درج شوي شرايط په پام كې ونه نيسي.

۲-هغه سياسي ګوندونه چې د ثبت په وخت كې يې د غړوشمېر له لسو زرو تنوڅخه لږ وي .

۳-هغه سياسي ګوند چې د دمخه ثبت شوي ګوند نوم يې كټ مټ غوره كړی وي.

۴-هغه سياسي ګوندونه چې پخوا په عدليې وزارت كې ثبت شوي،د دغه قانون د مواد وله په پام كې نيولو سره په رسمي جريده كې دهغه له خپريدو وروسته دشپږومياشتو په موده كې بيا ثبت شي .

محكمې ته دمراجعې حق

لسمه ماده :

په هغه صورت كې چې د عدليې وزارت دسياسي ګوندثبتول ردكړي، غوښتنليک وركوونكی حق لري واكمنې محكمې ته مراجعه وكړي .

ذيل نباشد ، رد نمايد:

۱- احزاب سياسی كه شرايط مندرج مادۀ ششم اين قانون را رعايت نه نمايند .

۲- احزاب سياسی كه تعداد اعضاء آن حين ثبت كمتر از ده هزار نفر باشند .

۳- حزب سياسی كه عين نام حزب ثبت شدۀ قبلی را اختيار نموده باشد .

(۲) احزاب سياسی كه قبلاً در وزارت عدليه ثبت شده اند با درنظر داشت مواد اين قانون درمدت شش ماه بعد از نشر آن درجريدۀ رسمی مجدداً ثبت گردند .

حق مراجعه به محكمه

مادۀ دهم :

درصورتی كه وزارت عدليه ثبت حزب سياسی را رد نمايد، درخواست دهنده حق دارد به محكمۀ ذيصلاح مراجعه نمايد .

## دګوندد فعالیت پیل

**یوولسمه ماده :**

(۱) سیاسي ګوندکولای شي تر ثبت وروسته رسماً فعالیت پیل کړي.

(۲) دسیاسي ګوند دفعالیت جواز لیک هغه حقوقي سند دی چې شکل او محتوایې دعدلیې وزارت له خوا ترتیب اوګوند ته ورکول کېږي.

## دثبت شوي ګوندحقوق

**دوولسمه ماده:**

ثبت شوی سیاسي ګوند دلاندې حقوقو لرونکی دی :

۱-خپلواک سیاسي فعالیت.

۲-له نورو سیاسي ګوندونو سره لنډمهاله یا اوږدمهاله سیاسي یووالی یا ائتلاف .

۳-په سیاسي ،ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي مسئلوکې په شفاهي یا لیکلې توګه د آزاد او څرګند نظرورکول او سوله ییز راټولېدل.

۴-دخپرندویه خپلواک ارګان

## آغاز فعالیت حزب

**مادۀ یازدهم :**

(۱) حزب سیاسی می تواند بعد از ثبت رسماً به فعالیت آغاز نماید.

(۲) جوازنامۀ فعالیت حزب سیاسی سند حقوقی است که شکل و محتوای آن ازطرف وزارت عدلیه ترتیب و به حزب اعطا می گردد.

## حقوق حزب ثبت شده

**مادۀ دوازهم:**

حزب سیاسی ثبت شده دارای حقوق ذیل می باشد :

۱- فعالیت سیاسی مستقل .

۲-اتحاد یا ائتلاف سیاسی مؤقت یا دایمی با سایر احزاب سیاسی .

۳- ابراز نظر آزاد و علنی به صورت شفاهی یا تحریری درمورد مسایل سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی و گردهم آئی صلح آمیز.

۴- تأسیس ارگان نشراتی

تأسيسول .

۵-دسياسي ګوندپـه لګـښت ، ډله ييزو رسنيوته لاس رسی.

۶-په ټولو ټاکنوکې د کانديد معرفي کول.

۷-په اساسنامه کې د درج شويو موخو او دندو مطابق لـه نـورو حقوقوڅخه ګټه اخيستل.

## په ګوندکې غړيتوب

ديارلسمه ماده :

(۱) د هېواد هغه اتباع چې د اتلس کلنۍ سن يې پوره کـړی وي او قانوناً د رايې ورکولوحق ولـري، کولای شي دسياسي ګوند غړيتوب تر لاسه کړي.

(۲)شخص نه شي کولای په يـوه وخت کې له يوه څخه دزياتو سياسي ګوندونو غړيتوب ترلاسه کړي.

(۳) دسترې محکمې غړي ،قاضيان، څارنوالان ، دوسله وال پوځ لاربنود هيئت،افسران، واړه ضـابطان او نظامي غړي، پوليس او د ملي امنيت

مستقل.

۵- دسترسی به رسانه های جمعی ، به مصرف حزب سیاسی .

۶- معرفـی کاندیـد درتمـام انتخابات.

۷- استفاده از سایر حقوق مطابق اهـداف و وظـایف منـدرج اساسنامه .

## عضویت حزب

مادۀ سیزدهم :

(۱) اتباع کشورکه سـن هجـده سال را تکمیل و حق رای دهی را قانوناً دارا باشـند، مـی تواننـد عضویت حزب سیاسی را حاصـل نمایند .

(۲) شخص نمی توانـد همزمـان عضویت بیش از یک حزب سیاسی را کسب نماید .

(۳) اعضای ستره محکمه، قضات، څارنوالان، هیئت رهبـری قـوای مسلح، افسران، خورد ضـابطان و افراد نظامی، پولیس و منـسوبین

منسوبين ، د اساسي قانون پر پلي کولو باندې دڅارنې، د بشر د حقوقو د خپلواکو کمېسيونونو، د ټولټاکنو خپلواک کمېسيون او د اداري اصلاحاتو د کمېسيون غړي د خپلو دندو دتصدۍ او ترسره کولو په دوره کې د سياسي ګوند غړيتوب نه شي ترلاسه کولاى .

## دريم فصل

## مالي چارې

**دګونددتمويل دسرچينو روڼوالي**

**څوارلسمه ماده :**

دسياسي ګوندونو دتمويل او لګښتونو سرچينې څرګندې او رڼې (شفافې) وي.

**دګوند د تمويل سرچينې**

**پنځلسمه ماده :**

(۱) سياسي ګوند له لاندېنيو سرچينو څخه تمويلېداى شي:

۱–دغړيتوب د حق ورکړه .

۲–دکورنيو حقيقي او حکمي

امنيت ملی، اعضاء کميسيون–های مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی، حقوق بشر، کميسيون مستقل انتخابات و کميسيون اصلاحات اداری در دورهٔ تصدی و انجام وظايف شان عضويت حزب سياسی را کسب نموده نمی توانند .

## فصل سوم

## امور مالی

**شفافيت منابع تمويلی حزب**

**مادهٔ چهاردهم :**

منابع تمويل و مصارف حزب سياسی علنی و شفاف می باشد .

**منابع تمويل حزب**

**مادهٔ پانزدهم :**

(۱) حزب سياسی از منابع آتی تمويل شده می تواند:

۱ – پرداخت حق العضويت ها.

۲ – اعطای کمک بلاعوض

اشخاصو په واسطه په کال کې تر پنځومېليونو افغانيو پورې بې عوضه مرسته ورکول.
۳-دمنقولو اوغير منقولو مالونو د عوايدو له درکه .
۴-دټاکنو پرمهال د دولت مرسته.
۵ -دغړولـــه خوانـــورې مرستې .
(۲) ګوندمکلف دی ،د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي عوايد په اړوندودفترونوکې ثبت او د بانک په ټاکلي حساب کې يې شامل کړي.

## دګوند د مالي چارو مسئوليت

شپاړسمه ماده :
(۱) دګوند رهبري د خپلې تصدۍ په دوره کې دګوند د مالي چارو مسئوليت پر غاړه لري.
(۲) دګوند رهبري د مربوطو مالي لګښتونو د اجراء کولوپه غرض ، يو يا څو تنه خپل واکمن استازي رسماً ټاکي او دهغوی لاسليک بانک ته

توسط اشخاص حقوقی و حکمی داخلی ، سالانه الی مبلغ پنج مليون افغانی .
۳- ازدرک عوايد اموال منقول و غير منقول .
۴- مساعدت دولت حين برگذاری انتخابات .
۵- سايرمساعدت ها ازطرف اعضاء .
(۲) حزب مکلف است عوايد مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را در دفاتر مربوط ثبت و به حساب معينه شامل بانک سازد .

## مسئوليت امور مالی حزب

مادۀ شانزدهم :
(۱) رهبری حزب در دورۀ تصدی خويش مسئوليت امور مالی حزب را به عهده دارد .
(۲) رهبری حزب غرض اجرای مصارف مالی مربوط يک يا چند تن نمايندۀ با صلاحيت خود را رسماً تعيين و امضای آنهارا

معرفي کوي.

(۳) دسياسي گوندونو منقــول او غيرمنقول مالونه دشرعي او قانوني سندونو له مخې ،دگوندپه مربوط دفتراود ماليې په وزارت کې ثبتېږي.

## څلورم فصل

## دسياسي گوند انحلال

### دگوند د انحلال حالتونه

اوولسمه ماده:

سياسي گوند نه شي منحل کېداى ، خو په لاندې حالتونوکې:

۱-په هغه صورت کې چې سياسي گوند قوې ته لاس واچوي اويا له قوې څخه د گټې اخيستنې گواښ وکړي يا د قانوني نظم د له منځه وړلو لپاره له قوې څخه گټه واخلي يا د وسله والوځواکونو لرونکــي وي،يا له وسله والو ځواکونو سره په جوړجاړي (تباني)کې وي .

۲-په هغه صورت کې چې د دغې مادې په (۱) جزکې د درج شويو

به بانک معرفی می نمایند.

(۳) اموال منقول وغیرمنقول احزاب سیاسی برویت اسناد شرعی و قانونی دردفتر مربوط به حــزب و وزارت مالیه ثبت می گردد.

## فصل چهارم

## انحلال حزب سیاسی

### حالات انحلال حزب

ماده هفدهم :

حزب سیاسی منحل شده نمی تواند ، مگر درحالات ذیل :

۱- درصورتی که حزب سیاســی به قوه متوســل شــود، یــا بــا اســتفاده ازقــوه تهدیــد نمایــد یا استفاده از قوه را برای بر انداختن نظــم قــانونی بکــار بــرد یــا دارای نیروهــای مــسلح بــوده یا به قوای مسلح درتبــانی قــرار داشته باشد .

۲- درصورتی که تدابیر قانونی در امر جلوگیری از حالات منــدرج

حالاتودمخنيوي لپاره قانوني تدبيرونه اغېزناک ثابت نه شي .

۳–په هغه صورت کې چې د اساسي قانون اود دغه قانون د حکمونو مخالف عمل وکړي.

## دګوند انحلال دمحکمې لخوا

اتلسمه ماده :

ستره محکمه دعدليې د وزير په غوښتنه د سياسي ګوند د انحلال موضوع واکمنې محکمې ته محولوی او واکمنه محکمه د قانون له حکمونو سره سم دسياسي ګوند د انحلال حکم صادروي.

## دګونددانحلال درخواست ته رسيدګي کول

نولسمه ماده:

(۱) د سياسي ګوند د انحلال د غوښتنليک څېړنه د بيړنۍ اجنداً تابع ده .

(۲) د سياسي ګوند د انحلال د غوښتنليک د څېړنې په وخت کې

جزء (۱) این ماده مؤثر واقع نشود .

۳– درصورتی که مخالف احکام قانون اساسی و این قانون عمل نمایند.

## انحلال حزب توسط محکمه

مادۀ هجدهم :

ستره محکمه بنابر تقاضای وزیر عدلیه، موضوع انحلال حزب سیاسی را به محکمۀ ذیصلاح محول می سازد و محکمۀ ذیصلاح حکم انحلال حزب سیاسی را مطابق احکام قانون صادر می نماید .

## رسیدگی به درخواست انحلال حزب

مادۀ نزدهم :

(۱) رسیدگی به درخواست انحلال حزب سیاسی تابع اجنداء عاجل می باشد .

(۲) جلسات محکمه حین رسیدگی به درخواست انحلال حزب سیاسی

دمحكمې غونډې علني وي .

**دقاضيانود ردغوښتنه**

**شلمه ماده:**

دسياسي ګوند لارښوونکی يا واکمن استازی حق لري،په محکمه کې د ګوند د انحلال د څېړنې په وخت کې د اړوند رئيس يا قاضيانو رد ، د سترې محکمې له عالي شوري څخه وغواړي .

که چېرې د رئيس يا قاضيانو د رد دلايل ،دسترې محکمې د عالي شوري له خوا مؤجه وګڼل شي،دسترې محکمې عالي شوري بل رئيس يا نورقاضيان ټاکي .

**دمحکمې په غونډه کې دګوند د لارښود د ګډون حق**

**يوويشتمه ماده:**

دسياسي ګوند لارښوونکی يا واکمن استازی حق لري،په محکمه کې د سياسي ګوند د انحلال دموضوع د څېړنې په وخت کې په مربوطه

علنی می باشد .

**مطالبهٔ ردقضات**

**مادهٔ بيستم :**

رهبر يانمايندهٔ با صلاحيت حزب سياسی حق دارد درحين رسيدگی انحلال حزب درمحکمه ، رد رئيس يا قضات مربوط را از شورای عالی ستره محکمه مطالبه نمايد .

هرگاه دلايل رد رئيس يا قضات نزد شورای عالی ستره محکمه مؤجه دانسته شود ، شورای عالی ستره محکمه رئيس يا قضات ديگر را تعيين می نمايد .

**حق شرکت رهبر حزب در جلسهٔ محکمه**

**مادهٔ بيست و يکم:**

رهبر حزب يانمايندهٔ با صلاحيت حزب سياسی حق دارد، حين رسيدگی موضوع انحلال حزب سياسی، درجلسهٔ محکمهٔ مربوط

غونډه کې ګډون وکړي او خپل دلايل وړاندې کړي .

**په فيصله کې دګوند د انحلال د دلائيلو ذکرول**

**دوه ويشتمه ماده:**

محکمه مکلفه ده د سياسي ګوند د انحلال په اړه دلايل په خپله فيصله کې ذکر کړي.

دسياسي ګوند دانحلال په هکله د وروستنۍ محکمې حکم قطعي او نهائي دی اود ډله ييزو رسنيو له لارې خپريږي .

**پنځم فصل**

**وروستني حکمونه**

**دګوند د ثبت پړاونه**

**درويشتمه ماده:**

سياسي ګوندونه او سازمانونه مکلف دي ،ددغه قانون له حکمونوسره سم د ثبت پړاوونه تېرکړي، پرته له دې په دغه قانون کې له درج شويو حقوقو څخه ګټه نه شي اخيستی.

شرکت نموده ، دلايل خودرا ارائه نمايد .

**ذکر دلايل انحلال حزب درفيصله**

**مادۀ بيست و دوم :**

محکمه مکلف است دلايل مبنی بر انحلال حزب سياسی را در فيصلۀ خود ذکر نمايد .

حکم محکمۀ نهايی در مورد انحلال حزب سياسی قطعی و نهائی بوده و ازطريق رسانه های همگانی به نشر می رسد .

**فصل پنجم**

**احکام نهايی**

**مراحل ثبت حزب**

**مادۀ بيست و سوم:**

احزاب و سازمانهای سياسی مکلف اند، مراحل ثبت را مطابق احکام اين قانون طی نمايند، در غير آن از حقوق مندرج اين قانون استفاده کرده نمی توانند.

**له ګوندي موقف څخه د ګټې اخيستنې منع والی**

**څلېريشتمه ماده :**

ددولتي مالي او سوداګريزو ادارو او مؤسسو مسئولان او لاربنود هيئت نه شي کولای ، له خپل موقف څخه د سياسي ګوندونوپه ګټه يا ضـــرر استفاده وکړي .

**انفاذ**

**پنځه ويشتمه ماده :**

دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذ او د هغه په نافذېدوسره د۱۳۸۲/۷/۲۶ نېټې په (۸۱۲) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د سياسي ګوندونو قانون لغو ګڼل کېږي .

**منـــع اســـتفاده از موقـــف حزبی**

**مادهٔ بیست و چهارم :**

مسئولان ادارات و مؤسسات مالی و تجارتی دولتی و هیئت رهبری آنها، نمی توانند ازموقف خویش به نفع یا ضرر احـــزاب سیاســـی اســـتفاده نمایند.

**انفاذ**

**مادهٔ بیست و پنجم:**

ایـــن قـــانون از تـــاریخ نـــشر در جریـــدهٔ رســـمی نافـــذ و با انفاذ آن قانون اجزاب سیاســـی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۸۱۲) مـــؤرخ ۱۳۸۲/۷/۲۶ ملغـــی شمرده می شود.

**اشتراک سالانه**

**در مرکز و ولایات :      (۸۰۰) افغانی**

**برای مامورین دولت :       با ۲۵ فیصد تخفیف**

**برای متعلمین  و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت**

**خارج از کشور:    (۲۰۰) دالر امریکایی**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL
# GAZETTE

## Extraordinary Issue

### Law on Political Parties


Date: 6th *SEPTEMBER.* ۲۰۰9

ISSUE NO :(996)